د افغانستان اسلامي امارت

د ارشــــاد، حج او اوقـــافو وزارت

د مساجدو او حُسَينيو د ارشاد او انسجام لوی رياست

د جمعې ورځې د خطابت موضوع او

ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو

ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.

۱۶/ جماد الاولی/۱۴۴۷ هـ، ق موافق ۱۶ / عقرب /۱۴۰۴هـ، ش

# د فقر د له منځه وړلو په اړه اسلامي لارښوونې د قرآن او سنتو په رڼا کې.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الحمد لله، الحمد لله هادي من استَهداه، ومُعطِي عبدَه فوقَ ما يتمنَّاه، أحمده سبحانه وأشكرُه على جزيلِ ما أولاه، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، ولا معبود بحقٍّ سِواه، وأشهد أن سيدَنا ونبيَّنا محمدًا عبدُ الله ورسولُه قرَّبَه وأدناه، صلّى الله وسلَّم وبارَك عليه وعلى آله الطيبين ، وأصحابه المُكرَّمين والتابعين ومن تبِعَهم بإحسانٍ وسلَّم تسليمًا كثيرًا لا حدَّ لمُنتهاه.

**درنو حاضرينو او محترمو اوريدونکو!**

**السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.**

هر انسان په خپل ژوند کې د مختلفو کړاونو، مشکلاتو، سختيو سره مخ کيږي، چې د هغو مشکلاتو له جملې څخه يو هم فقر دی.

داسلام مقدس دين ، چې يو جامع دين دی، چې له يو پلوه د روح روزنه کوي له بل پلوه د جسم په اړه سودمندې لارښوونې لري، که له يوې خوا په انسان کې معنويت تقويه کوي له بل پلوه د ژوند اسبابو ته يې هم په متوازن ډول توجه کړې ده.

الله جل جلاله فرمايلي دي:(وَابْتَغِ فِيمَا آتَاكَ اللَّهُ الدَّارَ الْآخِرَةَ وَلَا تَنْسَ نَصِيبَكَ مِنَ الدُّنْيَا وَأَحْسِنْ كَمَا أَحْسَنَ اللَّهُ إِلَيْكَ وَلَا تَبْغِ الْفَسَادَ فِي الْأَرْضِ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ). القصص:(۷۷)

ترجمه: او وغواړه په هغه (دولت) چې درکړی دی تاته الله کور د آخرت او مه هېروه برخه خپله له (ماله د ) دنيا او احسان کوه (له بندګانو د الله سره په ورکړه د مال)لکه چې احسان کړی دی الله له تاسره چې داسې ډېر دولت يې درکړی دی. او مه غواړه (ای قارونه!) په تکبر،ظلم او بغي سره په ځمکه کې ښېکله چې الله محبت نه کوي فساد کوونکو سره.

فقرکومه نوی خبره نه ده ، بلکې يوه نړيواله او د انسانانو د ژوند سره تړلې موضوع ده او د اسلام مبارک دين ورته جدي توجه کړې ده او فقر يې دانسانانو د ازميښتونو له جملې څخه شميرلی دی او د فقر څخه نجات يې خپل لوی نعمت ګرځولی دی. الله تعالی د (قريش) په سورت کې د مکې مکرمې د اوسيدونکو د فقر د حالت يادونه کړې ده او هغوی ته يې د نعمت د شکر اداء کولو په توګه فرمايلي دي،چې د مکې مکرمې اوسيدونکي بايد د هغه رب عبادت وکړي چې دوی ته يې د لوږې څخه نجات ورکړ. او داسې يې ورته و فرمايل:( د فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هَذَا الْبَيْتِ * الَّذِي أَطْعَمَهُمْ مِنْ جُوعٍ وَآمَنَهُمْ مِنْ خَوْفٍ).قريش:(۳-۴)

ترجمه:نو ښايي چې بندګي وکړي دوی رب د دې کوټې (کعبې) ته هغه (رب) چې طعام خواړه يې ورکړي دي دوی ته په لوږې کې او امن يې ورکړی دی دوی ته له خوف وېرې څخه.

فقر هغه ټولنيز بد حالت دی، چې د فقر له امله په ټولنه کې نور جرمونه هم رامنځ ته کيږي؛ لکه غلا، اختطاف، د لارو شکول، سودخوري، قمار، چور او چپاول، د نشه يې او مخدره موادو استعمال او داسې نور.

د همدې وجې نه رسول الله صلى الله عليه وسلم د فقرڅخه پناه غوښتلی ده او داسې دعاء به يې کوله:«اللهُمَّ إني أعوذُ بِكَ من الكُفر والفَقرِ». سنن أبي داود ت الأرنؤوط (٧ /٤٢١)

ژباړه: ای الله ! زه پناه غواړم پر تا باندې له کفر څخه او له فقر څخه.

په يو بل حديث شريف کې راځي، حضرت ابو هريره رضي الله عنه وايي، چې نبي عليه السلام به داسې دعاء کوله:« اللهمَّ إني أعوذُ بكَ مِن الفَقرِ، والقِلَّة، والذِّلَّة» سنن أبي داود ت الأرنؤوط (٢ /٦٤٤)، شرح سنن النسائي مع شرح السيوطي وحاشية السندي (٨ /٦٥٤)

ژباړه: ای الله ! زه پناه غواړم پر تاباندې له فقر څخه او د مال او درزق له کمي څخه او پناه غواړم پر تاباندې له ذلت څخه.

په يو بل روايت کې راځي:«كَادَ الْفَقْرُ أَنْ يَكُونَ كُفْرًا » حلية الأولياء، لأبي نعيم(٣ /٥٣)

ژباړه: نږدې ده، چې فقر کفر وګرځي. يعنې ځينې وخت فقر سبب د کفر ګرځي او مسلمان چې کله د فقر څخه په تنګ راشي داسې خبرې کوي ، چې کفر ته نږدې وي.

همدارنګه حضرت عمررضي الله عنه ته منسوب په يوه وينا کې راځي چې هغه وفرمايل:«لو كان الفقرُ رجلاً لقتلتُه».

ژباړه: که چيرې فقر سړی وی، نو خامخا ما به وژلی ؤ.

په ټولنه کې فقر د کار او کسب د نه کولو، جنګونو، وچکاليو، د مال په لګولو کې اسراف او تبذير کولو، په ټولنه کې دګناهونو زياتيدلو، سودي معاملاتو کولو، احتکار، د کاري فرصتونو د نه شتون، په ټولنه کې د طبقاتي او فيوډاليزم نظامونو د شتون له امله رامنځ ته کيږي.

د فقر له امله انسان د مختلفو کړاونو سره مخ وي، د فقر له امله انسان خپلې ضروري اړتياؤ ته، لکه داوسيدلو مناسب کور ، غذاء، علاج، مناسب لباس، لوړو زده کړو ته لاس رسی نلري، د نورو خلکو سره مرسته نشي کولای، د فقر له امله فقير نشي کولای چې د ژوند چارې لکه څرنګه چې مناسب وي په مخ بوزي او د فقر له امله په ماشومانو کې سوء تغذيه رامنځ ته کيږي، او مريضان د نه علاج له امله مري او د فقيرانو خلکو ماشومان اړ دي چې په ماشومتوب کې کار او کسب وکړي.

## د فقر د له منځه وړلو په اړه اسلامي لارښوونې:

لکه د نورو فردي او ټولنيزو مشکلاتو په څير د فقر له منځه وړلو په اړه د اسلام مبارک دين زياتې لارښوونې په ګوته کړي دي، چې ځينې يې په لاندې ډول دي:

**لومړی لارښوونه: د فقر په اړه د خلکو د عقيدې اصلاح.** اسلام مسلمانانو ته دا ورښوولي دي، د رزق د تنکوالي او پراخوالي په برخه کې خپله عقيده درسته کړي او داسې عقيده ولري، چې د رزق زياتوالی او کموالی يواځې د الله تعالی په لاس کې دي او هرچاته الله تعالی رزق او روزي ورکوي. الله تعالی فرمايلي دي: ( إِنَّ اللَّهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِينُ ) الذاريات:( ٥٨)

ترجمه: بېشکه الله همدی ښه رزق روزي ورکوونکی دی څښتن د قوت محکم مضبوط دی.

په يو بل مبارک آيت کې راځي:( وَمَا مِنْ دَابَّةٍ فِي الْأَرْضِ إِلَّا عَلَى اللَّهِ رِزْقُهَا وَيَعْلَمُ مُسْتَقَرَّهَا وَمُسْتَوْدَعَهَا كُلٌّ فِي كِتَابٍ مُبِينٍ ) هود:( ٦)

ترجمه: او نشته هيڅ تلونکی خوځېدونکی ذی روح په ځمکه کې مګر چې دی پر الله رزق روزي د هغه تفضلاً ترحماً نه وجوباً او عالم دی الله په ځای د اوسېدلو د هغه او ځای د سپارېدلو د هغه ټول (دا مذکوره اشياء) په کتاب واضح کې دي.

په یو بل مبارک آیت کې فرمایلي دي:( أَمَّنْ هَذَا الَّذِي يَرْزُقُكُمْ إِنْ أَمْسَكَ رِزْقَهُ بَلْ لَجُّوا فِي عُتُوٍّ وَنُفُورٍ)الملك:(۲۱)

ترجمه: آیا څوک دی هغه ذات چې رزق درکړي تاسې ته که چېرې بند کړي الله درڅخه رزق خپل؟ هیڅوک مو بې له الله رازق نشته.بلکه نښتي او محکم شوي دي دوی په سر کشی عناد او تېښته نفرت کې له حقه.

مسلمان باید په دې کلکه عقیده ولري، چې الله جل جلاله د انسانانو د حالت سره سم هغوی ته رزق او روزي ورکوي ، د کوښښ او کسب او کار باوجود که چیرې الله تعالی چاته کم رزق ورکړی دی، باید په خپل کم رزق او روزۍ باندې صبر وکړي او په دې باور ولري، چې د فقر په سختیو صبر کول دومره اجر لري، چې د پراخ رزق والاو څخه به کم نه وي.

او په دې کلکه عقیده ولري چې د رزق په زیاتوالي او کموالي دواړو حالتونو کې د الله تعالی لوی حکمت دی او په هغه اندازه رزق اوروزۍ قناعت ولري، چې الله تعالی دده لپاره مقرر کړی دی.ځکه چې د رزق او روزۍ تقسیم الله تعالی د ازلي علم او حکمت په اساس کوي. لکه چې الله تعالی فرمایلي دي:(وَلَوْ بَسَطَ اللَّهُ الرِّزْقَ لِعِبَادِهِ لَبَغَوْا فِي الْأَرْضِ وَلَكِنْ يُنَزِّلُ بِقَدَرٍ مَا يَشَاءُ إِنَّهُ بِعِبَادِهِ خَبِيرٌ بَصِيرٌ).الشورى:(۲۷)

ترجمه:او که چېرې پراخه کړي وی الله رزق روزي لپاره د ټولو بندګانو خپلو نو خامخا سرکشي به کړي وه دوی په ځمکه کې ولیکن نازلوي روزي الله دوی ته په هغې اندازې چې اراده وفرمایي بیشکه الله پر بندګانو خپلو ښه خبردار دی ښه لیدونکی دی.

په یو بل مبارک آیت کې راځي:(أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّ اللَّهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَشَاءُ وَيَقْدِرُ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ) الروم:(۳۷)

ترجمه: آیا نهویني نه دی خبر دی چې بېشــکه الله پراخوي رزق هر هغه چا ته چې اراده وکړي او تنګوي یې هغه چاته چې ویې غواړي بېشکه په دغه بسط او قبض کې خامخا دلائل دي لپاره د هغه قوم چې ایمان راوړي.

په یو بل مبارک آیت کې فرمایلي دي: ( إِنَّ رَبَّكَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَشَاءُ وَيَقْدِرُ إِنَّهُ كَانَ بِعِبَادِهِ خَبِيراً بَصِيراً).الإسراء:(۳۰)

ترجمه:بېشکه رب ستا پراخوي روزي لپاره د هغه چا چې اراده وفرمایي د پراخولو یې او تنګوي یې په هغه چا چې اراده وفرمایي د تنګولو یې بېشکه چې دغه الله په مصالحو د بندګانو خپلو ښه خبردار ښه لیدونکی دی.

حافظ ابن کثیرح (إِنَّهُ كَانَ بِعِبَادِهِ خَبِيراً بَصِيراً) په تفسیر کې لیکلي دي:أي خبيراً بصيراً بمن يستحق الغنى ويستحق الفقر، كما جاء في الحديث «إن من عبادي لمن لا يصلحه إلا الفقر، ولو أغنيته لأفسدت عليه دينه، وإن من عبادي لمن لا يصلحه إلا الغنى، ولو أفقرته لأفسدت عليه دينه» وقد يكون الغنى في حق بعض الناس استدراجاً، والفقر عقوبة).تفسير ابن كثير / دار الفكر (۳ /۵۰)، واخرج الحديث ابن عساكر في تاريخه. تاريخ دمشق (۷ /۹۵)

ژباړه: یعنې الله تعالی خبرداره دی او لیدونکی دی چې څوک د غني توب مستحق دی او څوک د فقر مستحق دی لکه چې په حدیث شریف کې راځي: (بیشکه ځینې زما په بندګانو کې داسې کسان دي چې نه سموي هغوی لره، مګر فقر او که چیرې زه هغه غني کړم، نو غني والی به دهغه دین فاسد کړي او ځینې زما په بندګانو کې داسې کسان دي چې نه سموي هغوی لره ، مګر غني والی او که چیرې زه هغه فقیر کړم، نو د هغه دین به فاسد شي) او ځینې وخت غنی والی د ځینو خلکو په حق کې استدراج وي او فقر د هغوی لپاره عذاب وي.

همدا راز په دې خبره هم کلکه عقیده ولري چې د رزق او روزۍ زیادت او ډېروالی، لکه د فقر په څیر د انسان د ازمیښت سبب کیدلی شي.

الله تعالي فرمایلي دي:(وَاعْلَمُواْ أَنَّمَا أَمْوَالُكُمْ وَأَوْلاَدُكُمْ فِتْنَةٌ وَأَنَّ اللّهَ عِندَهُ أَجْرٌ عَظِيمٌ).الأنفال:(۲۸)

ترجمه:او پوه شئ تاسې چې بېشکه مالونه ستاسې او  اولاد ستاسې ابتلاء ازموینه ده او بېشکه الله په نزد د ده اجر ثواب ډېر لوی دی بهتر له هر شي نه نو په طلب کې یې اوسئ.

په یو بل مبارک آیت کې راځي:(لَتُبْلَوُنَّ فِي أَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَمِنَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا أَذىً كَثِيراً وَإِنْ تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ ذَلِكَ مِنْ عَزْمِ الأُمُورِ).آل عمران:(١٨٦)

ترجمه: قسم دی چې خامخا وبه ازمویل شئ تاسې خامخا په مالونو خپلو په زکات او په ځانونو خپلو په جهاد او خامخا به واورئ تاسې بالضرور له هغو کسانو چې ورکړی شوی دی دوی ته کتاب له تاسې څخه پخوا او له هغو کسانو چې شریکان نیسي په الله پورې ضرر بد ویل ډېر او که صبر وکړئ په طاعت او مصیبت او له معصیت او پرهیزګاري وکړئ تاسې له بدو کارونو نو بېشکه دا صبر او تقوی د همت له کارونو څنې دی.

**دوهمه لاربنوونه: کار او کسب کول او د تنبلۍ او بې کارۍ څخه ځان ساتل.** تنبلي او بې کاري په شریعت کې ناوړه خصلت معرفي شوی دی، کار او کسب ته مسلمانان هیځول شوي دي.

کار او کسب د مال او رزوۍ ګټلو وسیله ده ، د کار او کسب د اقتصاد او انتاج اساس دی، کار او کسب د غني والي ، ثروت، عفت او په ځان بسیا کیدلو اساسي رکن دی.

کار ، کسب اوزیار ویستل په شریعت کې لوی فضیلت لري؛ ځکه چې په کار او کسب نه یواځې دا چې انسان پرې د بل احتیاج څخه خلاصیږي د ټولنې د ترقۍ او هوساینې لامل دی.
په شرعي نصوصو کې راځي چې الله تعالی ځمکه پیدا کړې ده او په ځمکه کې برکت ایښی دی او په ځمکه کې یې د انسانانو او حیواناتو رزق پټ کړی دی او د ځمکې په ظاهر او باطن کې برکتونه ذخیره کړي دي، چې د خلکو د غوره ژوند تیرولو لپاره کفایت کوي او ددوی حاجتونه ورڅخه پوره کیږي. الله تعالی فرمایلي دي:(وَلَقَدْ مَكَّنَّاكُمْ فِي الْأَرْضِ وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيهَا مَعَايِشَ قَلِيلاً مَا تَشْكُرُونَ). الأعراف:( ١٠)

ترجمه:او خامخا په تحقیق ځای او قدرت او تصرف درکړی دی مونږ تاسې ته ای انسانانو په ځمکه کې او پیدا مقرر کړي دي مونږ تاسې ته په دغې ځمکې کې هر قسم اسباب د ژوندانه لږ شانې شکر وباسئ تاسې.

په یو بل بل مبارک آیت کې راځي:(وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنَاهُمْ مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلاً).الإسراء:(٧٠)

ترجمه:او خامخا په تحقیق ډېر عزت ورکړی دی مونږ اولادې د آدم ته او سواره کړي مو دي دوی پر مرکوباتو باندې په وچه کې او پر بحر کې او رزق روزي مو ورکړې ده دوی ته له طیباتو پاکیزه وو شیانو او غوره کړي مو دي دوی پر ډېرو له هغه چا چې پیدا کړي مو دي په غوره کولو ډېرو سره.

او ښکاره خبره ده چې د ځمکې برکات، خیراتونه او رزق پرته له زحمت او کار څخه نه تر لاسه کیږي او دومداره مشقت ګاللو او کار ته ضرورت لري. لکه چې الله تعالی فرمایلي دي:(هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ ذَلُولاً فَامْشُوا فِي مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا مِنْ رِزْقِهِ وَإِلَيْهِ النُّشُورُ).الملك:(١٥)

ترجمه:دغه الله همغه ذات دی چې ګرځولې یې ده تاسې ته ځمکه پسته تابعداره نو ځئ ګرځئ تاسې په اوږو اطرافو لارو د دې ځمکې کې او خورئ تاسې له حلال رزق د دغه الله او خاص دغه الله ته بیا ژوندي راپورته کېدل ستاسو دي پس له مرګه په یو بل مبارک آیت کې الله تعالی فرمایلي دي: (فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانْتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِنْ فَضْلِ اللَّهِ وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيراً لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ)[الجمعة:١٠].

ترجمه:نو هر کله چې اداء کړی شي لمونځ د جمعې پس خواره شئ تاسې په ځمکه کې خپلو حوائجو ته که یې لرئ او ولټوئ تاسې له فضله دالله ا و یادوئ تاسې الله په یادولو ډېرو سره ښایيږي چې و مومئ تاسې ښېګڼې خلاصی مراد.

امام بغوي رحمه الله ددې آيت په تفسير کې ليکي: (أَيْ: إِذَا فُرِغَ مِنَ الصَّلَاةِ فَانْتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ لِلتِّجَارَةِ وَالتَّصَرُّفِ فِي حَوَائِجِكُمْ، وَابْتَغُوا مِنْ فَضْلِ اللَّهِ، يَعْنِي: الرِّزْقَ). تفسير البغوي) ٨ /١٢٣) ژباړه:يعنې کله چې لمونځ خلاص شي نو خواره شئ په ځمکه کې د تجارت لپاره او په خپلو حاجتونو کې دتصرف لپاره او ولټوئ د الله تعالی فضل يعنې رزق.

کله چې څوک د رزق ګټلوکوښــښ کوي او د رزق او روزۍ ګټلو په لټه کې په ځمکه کې کار کوي او زحمت باسي ، حتمي ده چې خپل مقصد ته به رسيږي او حلاله روزي به تر لاسه کوي او خپلې اړتياوې به ورباندې پوره کوي او د نورو سره به مرسته هم کوي او د الله تعالی حق عشر او زکات به هم ورکوي او نفلي صدقات به هم ورکوي او اجرونه به ترلاسه کوي او څوک چې په کور کې ناست وي، کار او کسب نه کوي او نه زحمت وباسي، نو داسې کس به تل نورو ته محتاج وي او لاس به تل نورو ته نيولی وي او د ذلت ژوند به تيروي.

حلال کسب او حلاله روزي ګټل عبادت دی او په ډيرو نصوصو کې د حلال رزق او روزۍ په ګټلو امر شوی دی. په يو حديث شريف کې راځي: عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «اطْلُبُوا الرِّزْقَ فِي خَبَايَا الْأَرْضِ» . فضائل الصحابة لأحمد بن حنبل (١ /٣١٣)، مسند أبي يعلى (٧ /٣٤٧)

ژباړه:د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی ، هغه وايې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:ولټوئ رزق په پټو ځايونو د ځمکې کې.

امام مناوي رحمه الله ددې(خبايا) کليمې په شرح کې ليکلي دي: خبايا د خبيئة جمع ده . يعنې ولټوئ رزق په کرکيله کې لکه زراعت، د ونو کينول او کرل، بيشکه د ځمکې څخه به هغه ډول ډول نباتات را زرغون شي چې په هغو پورې د حيواناتو ژوند او بقاء تړلی ده.

او ويل کيږي چې ددې څخه د ځمکې څخه د معدنونو، جواهرو راويستل مراددي. او د ځمکې څخه د رزق د ترلاسه کولو لارښوونه ځکه شوې ده ، چې ځمکه د نورو اقتصادي مواردو په نسبت توکل ته ډيره نږدې ده او زيات دوامداره زحمت نه غواړي؛ ځکه کله چې دهقان ځمکه وکرله او په هغې کې يې دانې پټې کړې نور ، نو د خپل زحمت او مشقت څخه بې غمه شو او د خپل توان په اندازه يې کوښښ وکړ او د دانو د زرغونولو او د ځمکې څخه د هغو د را ټوکولو په اړه بل کوم کار ته ضرورت نلري، بلکې د ددانو په زرغونولو کې او راټوکولو کې د الله تعالی قضاء او تقدير ته انتظار باسي او يواځې د خپل رب څخه اميد کوي نه بل چا څخه، ترڅو چې اسمان ور باندې راووروي او آفتونه ورڅخه دفع کړي، دا هغه څه دي چې د مخلوق په کې وس نرسيږي او په بل څوک قادر نه دی پرته د هغه ذات څخه چې د ځمکې پټ شيان او د اسمانونو پټ شيان ر ابنکاره کوي.فيض القدير (١/ ٥٤١)

د رسول الله صلی الله عليه وسلم صحابه کرام رضوان الله تعالی عليهم اجمعين په وچه او بحر کې تجارتونه کول او په باغونو کې يې په خپلو خرماګانو په ونو کې کارونه کول او صحابه کرام زمونږ لپاره قدوه دي.

د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه پوښتنه وشوه چې:(يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَيُّ الْكَسْبِ أَطْيَبُ؟ قَالَ: «عَمَلُ الرَّجُلِ بِيَدِهِ وَكُلُّ بَيْعٍ مَبْرُورٍ» مسند أحمد مخرجا (٢٨ /٥٠٢)

ژباړه: ای د الله رسوله! کوم يو کسب ډير پاکيزه دی؟ نبي عليه السلام ورته وفرمايل: کار کول د سړي په خپلو لاسونو باندې او هر هغه بيع چې قبول شوې وي. يعنې حلاله وي او قسمونه خوړل په کې نه وي.

په يو بل حديث شريف کې راځي:(عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَطْيَبَ مَا أَكَلْتُمْ مِنْ كَسْبِكُمْ). الترمذي (٣ /٦٣٩)

ژباړه: دحضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: بيشکه ډير پاکيزه شی چې تاسې يې خورئ هغه، هغه دی چې ستاسې له کسب څخه وي.

په يو بل حديث شريف کې راځي، چې (ما أكل أحدٌ طعامًا قط خيراً من أن يأكُل من عمل يده، وإن نبيَّ الله داود صلى الله عليه وسلم كان يأكل من عمل يده) صحيح البخاري

ژباړه: نه دی خوړلی هیچا هیڅ طعام هیڅکله، چې هغه دې غوره او بهتره وي ددینه چې وخوري د کار د لاس خپل څخه ، او بیشکه د الله نبي داوود علیه السلام هغه وو چې خوراک به یې کولو د خپل لاس د کار څخه .

د کار او کسب کولو په هکله د ټولنې خلک څو قسمه دي:

**لومړی قسم خلک :** ځینې خلک شته چې کار کول ورته سپک ښکاري او عیب ورته ښکاري چې دا د عربو دجاهلیت د زمانې څخه را پاتې رسم دی. لکه خټ ګیري، لوواري، دهقاني، مستري توب یا داسې نور...چې دا د جاهلیت د زمانې تصور دی . هر کسب او کار محترم دی خو چې هغه کسب او کار حرام نه وي، ځکه چې کسب او کار انسان د احتیاج او سوالګري له ذلت څخه خلاصوي او عزت ورته وربښي او په حدیث شریف کې راځي. د حضرت حکیم بن حزام رضي الله عنه څخه روایت دی ،هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:«اليدُ الْعُلْيا خيرٌ من اليدِ السُّفلى» مختصر صحيح الإمام البخاري، للزبيدي (١ /٤١٩)

ژباړه: اوچت لاس (خیرات ورکوونکی لاس) غوره دی د ټیټ لاس څخه (د سوال اخیستونکي لاس څخه)

انبیاء کرام علیهم السلام، چې د الله تعالی افضل ترین انسانان دي ، هغوی چوپاني کړی ده، په هغوی کې ځینو آهنګري کړی ده، په هغوی کې ځینو خیاطي کړی ده، په هغوی کې ځینو ټوکرونه خرڅول، په هغوی کې ځینو دهقاني کړی ده، په هغوی کې ځینو تجارت کړی دی.

همدارنګه زمونږ ددین امامان په هغوی کې هم د ټوکرونو خرڅوونکي ؤ، په هغوی کې د قفلونو جوړوونکي یا خرڅوونکي موجود ؤ، په هغوی کې د پایزارونو جوړوونکي موجود ؤ، په هغوی کې دشیشې جوړونکي او خرڅوونکي موجود ؤ، په هغوی کې د پوستکو کاروباریان او د پوستکو ګنډونکي موجود ؤ، په هغوی کې د لرګیو خرڅوونکي موجود ؤ، په هغوی کې د جص خرڅوونکي یا جوړوونکي موجود ؤ، په هغوی کې خیاطان موجود ؤ، په هغوی کې د پمبې خرڅوونکي موجود ؤ، په هغوی کې موزې خرڅوونکي او موزې جوړوونکي موجود ؤ.

ددې امت لپاره په کار دي چې د خپلو ددین د امامانو د کسبونو او مهارتونو پیروي وکړي، ترڅو د سعادت او نیکبختی خاوندان شي او په ځان بسیا شي.

**دوهم قسم خلک:** په ځینو خلکو کې دا عادت دی چې په خپل ځای کې ورته د خپلې خوښې کار او کسب پیدا نشي ، نو دده واچوي او وایې کار او کسب نشته. دا کړنه بې همتي ده ، تنبلي ده ، بې کاري ده او نتیجه یې د خلکو د قرضونو لپاره یا د سوال لپاره د لاس اوږدول دي. الله تعالی فرمایې چې په ځمکه کې د رزق لټولو او کار کولو پسې وګرځه. البته ددې معنا دا نه ده چې د کار او کسب په بهانه اروپایې ملکونو ته لاړشه ، بلکې ددې معنا داده چې د الله تعالی ځمکه پراخه ده هر هغه ځای ته د کار او کسب لپاره لاړ شه چې ستا دین او دنیا دواړه په کې په امن وي او د خپل ځان لپاره او خپلې کورنۍ لپاره حلاله روزي وګټې.
الله تعالي فرمایلي دي: (وَآخَرُونَ يَضْرِبُونَ فِي الْأَرْضِ يَبْتَغُونَ مِنْ فَضْلِ اللَّهِ) .المزمل:( ٢٠)
ترجمه:او وي به نور له تاسې څخه په سفر مزل به کوي دوی په ځمکه کې لټوي به دوی له فضله رزقه د الله.
په یو روایت کې راځي :(سُئِلَت أمُّ مسلمة عن تفرُّق أولادها، فقالت بلغة الأم المُرَبِّية العاقلة الحكيمة: باعَدَت بينهم هِمَمُهم).
ژباړه: د ام سلمه رضي الله عنها څخه د هغې د اولاد لرى وتلو د سبب پوښتنه وشوه. حضرت ام سلمه رضي الله ورته وفرمایل: جداوالی راوستی دی د هغوی ترمنځ د هغوی همتونو.(یعنې کارونه یې لری لری دي ، نو ځکه هغوی یو له بل څخه جدا شوي دی).

**دریم قسم خلک:** دِله خلک داسې دي چې متوکلین دي ، چې حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ورته متأکلین ویلي دي.
دا ډول خلک هغه خلک دي، چې کار او کسب څخه بیزاره دي، نه علماء دي چې د علم په درس تدریس کې مصروف وي او کار کسب کولو ته وخت نلري، نه دوی طالب علمان دي چې د سبقانو په لوستلو او یادولو کې مصروف وي، دوی یواځې ځانونه دخلکو صدقاتو ، خیراتونو، هدایاؤ ته اوزګار کړي وي او ځانونه سوال کلولو ته جوړ کړي وي او دروازو ته ګوري او ددې انتظار باسي چې څوک ورته څه شی راوړي ترڅو دوی یې وخوري او بیا ویده شي. دوی په دې شُبه کې پریوتي وي چې حلال رزق ګټل ، کار او کسب د زُهد سره مخالف کار دی او ددنیا سره تعلق ساتل د مسلمان زُهد لمنځه وړي ، دا هغه خلک دي چې په تهولنه باروي .تلبیس إبلیس ص:( ۱۷۹)
حال داچې په اسلام کې دکار نه کولو او د کسب څخه ځان ساتل او حلاله روزي ګټل ، عین التوکل علی الله دی.
په روح المعاني کې راځي:(مر عمر بن الخطاب رضي الله تعالی عنه بقوم فقال من أنتم؟ فقالوا المتوكلون. قال: أنتم المتاكلون) روح المعاني (۲۹ /۱۵)

ژباړه: تیر شو عمر بن الخطاب رضي الله عنه په یو قوم باندې ورته یې وویل : تاسو څوک یاست؟ یعنې څه کاره یاست.
هغوی ورته وویل: مونږ په الله تعالی توکل کوونکي یو. حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ورته وویل: نه! داسې نه ده ، بلکې تاسې خوراکیان یاست.

الله تعالی د تنبلو او په قصدي توګه د کار او کسب پرېښودونکو ته د مسلمانانو په صدقاتو کې برخه نه ده مقرر کړی او دا ددې لپاره چې دوی بایـد کـار کولو ته مجبور کړل شي، ترڅو د ځان لپاره یې وګټي او بیا هم وخوري او هم یې نورو ته ورکړي او داســې خلک یې له سوالګرۍ څخه هم منع کړي دي. ځکه چې ددرېو کسانو څخه علاوه، اسلامي شریعت په نورو خلکو سوالګري د حجة الوداع په ورځ حرامه کړی ده. په حدیث شریف کې راځي: عَنْ حُبْشِيِّ بْنِ جُنَادَةَ السَّلُولِيِّ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي حَجَّةِ الوَدَاعِ وَهُوَ وَاقِفٌ بِعَرَفَةَ، أَتَاهُ أَعْرَابِيٌّ، فَأَخَذَ بِطَرَفِ رِدَائِهِ، فَسَأَلَهُ إِيَّاهُ، فَأَعْطَاهُ وَذَهَبَ، فَعِنْدَ ذَلِكَ حَرُمَتِ المَسْأَلَةُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ المَسْأَلَةَ لَا تَحِلُّ لِغَنِيٍّ، وَلَا لِذِي مِرَّةٍ سَوِيٍّ، إِلَّا لِذِي فَقْرٍ مُدْقِعٍ، أَوْ غُرْمٍ مُفْظِعٍ). سنن الترمذي ت شاکر (۳ /۳٤)

ژباړه:د حضرت حُبْشِيِّ بْنِ جُنَادَةَ السَّلُولِيِّ رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه فرمايي چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واوریدل چې ویې ویل په حجة الوداع کې په داسې حال کې چې هغه په عرفات کې ولاړ ؤ، یو بانده چې ورته راغی او دنبي علیه السلام د احرام یوه څنډه یې ونیوله او له نبي علیه السلام څخه یې څه شی په سوال وغو
چې دغه پورتني خلک په دغو کسانو کې شامل نه دي چې سوالګري وکړي.
ښتل ، نو نبي علیه السلام ورته ورکړل، نو په دغه وخت کې سوالګري حرامه وګرځول شوه، او نبي علیه السلام وفرمایل: بیشکه سوالګري حلاله نه ده د غني سړي لپاره او نه ده سوالګري حلاله د عقلمند او قوي سلیم الاعضاء سړي لپاره (یا داچې قادر وي په کسب باندې) ، مګر جائز ده سوالګري د هغه فقیر سخت لپاره( چې لګولې یې وي ملا په خاورو باندې) او جائز ده سوالګري د هغه قرضدار لپاره چې قرض یې شرموونکی وي.
په بل روایت کې یو بل کس هم ذکر شوی دی. انس بن مالک رضي الله عنه فرمايي چې نبي علیه السلام فرمايلي دي: « الْمَسْأَلَةُ لَا تَحِلُّ إِلَّا لِثَلَاثَةٍ لِذِي فَقْرٍ مُدْقِعٍ أَوْ لِذِي غُرْمٍ مُفْظِعٍ ، أَوْ لِذِي دَمٍ مُوجِعٍ » . رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُد

ژباړه: سوالګري حلاله نه ده ؛ مګر د درې کسانو لپاره، هغه فقیر لپاره چې فقر یې ډیر شدید وي او د هغه قرضدار لپاره چې قرض شنیع وي او بـل د هغـه وینې والا تـه (دیت کې) چې د هغه وینه دردوونکی وي. یعنې ددیت والا خلک تل هغه څوک په تنګوي چې دیت ورکول ورباندې لازم دی.

**دریمه لاربښوونه: د غنیانو څخه د زکات اخیستل او فقیرانو ته ورکول.**

بله لاربښوونه چې فقر له منځه وړي، هغه داده چې شتمن او غنیان خلک باید د خپلو مالونو زکات او عشر باید فقیرانوخلکو ته ورکړي، ځکه چې زکات او عشر د فقیرانو حق دی. دا هغه قرآني لاربښوونه ده، چې څوارلس کاله مخکې الله تعالی بیان کړی ده او دایې فرمایلي دي، چې د مالدارانو او شتمنو خلکو په مالونو کې ، که هغه طلا وي، او یا نقره وي، حیوانات وي او یا نغدې پیسې وي چې کله د زکات د وجوب شروط یې پوره کړي وي، د فقیرانو په کې حق دی چې هغه زکات دی، ترڅو فقر له منځه لاړشي.

الله تعالی فرمایلي دي:( إِنَّمَا الصَّـدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَـاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَـبِيلِ اللَّهِ وَابْنِ االسَّبِيلِ فَرِيضَةً مِنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ) التوبة: (٦٠)

ترجمه: بېشکه همدا خبره ده چې صدقې زکات صرفیږي لپاره د فقیرانو او مسکینانو او عاملانو مقررو پر هغه تحصیل د صدقې او هغو ته چې الفت آشـنایي اچولی شي به زړونو د دوی که له اسـلام سره او صرفیږي په خلاصـولو د غاړو د نادارو مکاتبانو کې او پور وړو تاوان موندونکو او صرفیږي په لاره د الله کې او صرفیږي لپاره د مسافرانو چې مال ورسره نه وي مقرر او لازم کړی شوې ده دغه فریضه زکات له جانبه د الله د غو مصارفو لره او الله په هر څه ښه پوه او د حکمت خاوند دی.

همدارنگه په یو بل مبارک آیت کې په دې حق باندې تصریح شوی ده او الله تعالی فرمایلي دي:( وَالَّذِينَ فِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَعْلُومٌ . لِلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومدامِ ) المعارج:(٢٤-٢٥)

ترجمه: او هغه کسان (هم هلوع نه دي) چې په اموالو د هغوی کې حق برخه معلومه وي له زکات او صدقات لپاره د غوښتونکیو فقیرانو او محروم فقیرانو چې سوال نه کوي.

امام محمد بن سیرین او امام قتاده رحمهما الله وایې چې دا آیت د فرضي زکات په باره کې نازل شوی دی.

او ابوبکر بن العربي هم وایې چې قوي خبره داده چې ددې حق څخه مراد زکات دی.

اود سائل څخه فقیر مراد دی او د محروم په باره کې د مفسرینو مختلف نظرونه دي. ځینې وایې د محروم څخه مراد هغه کسب گر مراددی چې کار ورته نه پیدا کیږي، ځینې نور وایې چې د محروم څخه هغه محتاج کس مراددی چې د خلکو څخه څه نه غواړي، ځینې وایې چې د محروم څخه هغه کس مراددی چې مال ورسره نه وي پاتې، ځینې وایې چې د محروم څخه هغه دهقان مراددی چې میوه جات،غلې دانې او یا څاروی یې آفت وهلي وي، ځینې وایې چې د محروم څخه مراد هغه کس مراد دی چې مصیبت ورته رسیدلی وي. تفسیر القرطبي(١٧ / ٣٨)

خو که چیرې د دغو ټولو خلکو حالت ته وگورو ، نو ټول محتاج او فقیران خلک دي او هریو یې د زکات مستحق دی.

**څلورمه لاربښـوونه: د نفلي صدقاتو او خیراتونو ورکول هم فقر له منځه وړي.** د فرد او ټولنې څخه د فقر د له منځه وړلو کې فقیرانو ته نفلي صدقات او خیراتونه ورکول ډېر مهم رول لري . د همدې وجې نه شریعت خپل پیروان او مسلمانان دیته هڅولي دي، چې د فقیرانو ته خیراتونه ورکړي او د الله د رضـا لپاره صـدقات فقیرانو او مسـکینانو ته ورکړي. برابره خبره ده که هغه غله دانې وي، که هغه حیوانات او څاروي وي، یا دذبح شـوي حیوان غوښې وي، یا نغدې پیسې وي، یا فقیرانو ته د هغوی د اړتیاوې پوره کول وي او د هغوی سره مرسته کول وي او په دې باره کې بې شـمیره آیتونه او نبوي احادیث موجود دي.الله جل جلاله فرمایلي دي: ( فَاتَّقُوا اللَّهَ مَا اسْـتَطَعْتُمْ وَاسْمَعُوا وَأَطِيعُوا وَأَنْفِقُوا خَيْرًا لِأَنْفُسِكُمْ وَمَنْ يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ التغابن:(١٦)

ترجمه:نو وویرېږئ تاسې له الله څومره چې توانېږئ تاسې او واورئ خبرې د الله په سماع د قبول سره او اطاعت کوئ د احکام الله او نفقه کوئ لګوئ ښه شیان لپاره د نفعې د ځانونو خپلو یا دا غوره ده ستاسو لپاره.او هغه چې وساتلی شي له حرض بخیلۍ د نفس خپل څخه نو دا کسان همدوی دي بریالیان په مراد رسېدلي بچ شوي له عذابه په دواړه دارینو کې.

په يو بل آيت کې راځي:( وَمَا أَنْفَقْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُ وَهُوَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ ) سبأ:( ٣٩)

ترجمه:او هر هغه څه چې لګوئ يې تاسې (په لاره د الله کې)له کوم شي څخه (ډېر وي که لږ) پس هغه الله عوض درکوي د هغې او همدغه الله خير غوره د روزي ور کوونکيو دى.

په يو بل مبارک آيت کې راځي: ( وَمَا تُقَدِّمُوا لِأَنْفُسِكُمْ مِنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِنْدَ اللَّهِ هُوَ خَيْرًا وَأَعْظَمَ أَجْرًا ). المزمل:( ٢٠)

ترجمه:او هر هغه چې وړاندې کوئ يې لېږئ تاسې لپاره د ځانونو خپلو له څه خير نېکۍ څخه نو بيا به مومئ تاسې هغه نېکۍ په نزد د الله ښخوا لېږل د حسناتو خير ډېره غوره ده او ډېره لويه ده له پلوه د اجر ثواب.

په حديث شريف کې راځي. د عدي بن حاتم رضي الله عنه څخه روايت دى، هغه وايې چېما درسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې داسې يې وفرمايل: « مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ يَسْتَتِرَ مِنَ النَّارِ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ فَلْيَفْعَلْ ». صحيح مسلم (٣ /٨٦) ژباړه: څوک چې ددې توان ولري چې ځان وساتي د (جهنم) له اور څخه اګر که د نيمي خرما (په ورکړې سره وي) ، نو دا کار دې وکړئ.
په يو بل حديث شريف کې راځي، د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دى ، هغه وايې چې نبي عليه السلام وفرمايل:«السَّاعِي عَلَى الْأَرْمَلَةِ وَالْمِسْكِينِ كَالْمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوْ الْقَائِمِ اللَّيْلَ الصَّائِمِ النَّهَارَ» . صحيح البخاري ت (١٣ /٣٨٥)

ژباړه: کوښښ کوونکى په حق د (لپاره د حاجت پوره کولو) کونډې او مسکين کې په شان د هغه مجاهد دى چې د الله تعالى په لاره کې وي او يا په شان د هغه چادى چې د شپې تهجد کوونکى وي او د ورځې روژه نيوونکى وي.

په يو بل حديث شريف کې راځي چې نبي عليه السلام فرمايلي دي:«وَأَنَا وَكَافِلُ الْيَتِيمِ فِي الْجَنَّةِ هَكَذَا - وَأَشَارَ بِالسَّبَّابَةِ وَالْوُسْطَى وَفَرَّجَ بَيْنَهُمَا شَيْئًا ) .صحيح البخاري ت (١٣ /٣١١)

ژباړه: زه او د يتيم کفالت کوونکى به په جنت کې داسې يو ـ او اشاره يې وکړه په سبابه ګوته باندې او په منځنۍ ګوته باندې او ددواړو ګوتو ترمنځ يې لږ جداوالى راوست.

**پنځمه لارښوونه: د حاجت مند شخص حاجت پوره کول او د کمزورو او د بې وزلو ترڅنګ دريدل فقر لمنځه وړلو کې دي.**
هغه څه چې د ټولنې څخه فقر له منځه وړي ، د حاجت مندو خلکو د حاجتونو پوره کول دي او د کمزورو په څنګ کې دريدل دي.
که چيرې د چا خپلوان حاجت مند وي او عاجزه وي يا خو فقيران وي او بوډاګان وي؛ نو د هغوى حاجتونه پوره کول صله رحمي پالل دي او صله رحمي پالل چې واجبي کار دى، ددې وجى نه ځينې علماء وايې چې ددې آيت :(وَآتِ ذَا الْقُرْبَى حَقَّهُ) الاسراء:٢٦)

څخه مراد هغه خپلوان دي، چې په ميراث کې حق نلري ، خو د خپلولۍ او صله رحمۍ د پاللو د حق په وجه ورته د ميراث څخه بايد په يو څه ورکړل شي، لکه خوريونه، خورزې، ماماګان، ترورياڼې، وريرونه او وريرې او داسې نور.

په تفسير خازن کې ددې آيت په تفسير کې راځي، چې که چيرې د چا خپلوان حاجت مند وي او خپله شتمن وي ؛ نو په هغوى انفاق کول واجب دي او دا د امام ابوحنيفه رحمه الله مذهب دى.تفسير الخازن ـ (٤ /١٦٠)

په يو حديث شربف کې راځي، د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دى ، هغه وايې چې نبي عليه السلام فرمايلي دي:« ليس المؤمن الذي يبيت شبعان وجاره جائع». شرح معاني الآثار (١ /٢٧)، مسند أبي يعلى (٥ /٩٢)

ژباړه:نه دى کامل مؤمن هغه کس چې ويده کيږي په داسې حال کې موړ وي او ګاونډي يې وږى وي.

**شپږمه لارښوونه: د فقر د له منځه وړلو لپاره باید خلک د وقف په موضوع باندې اهتمام وکړي.**

وقف هغه صدقه جاریه ده ، چې ثواب یې وقف کوونکي ته د مرګ څخه وروسته هم رسیږي او د فقر د له منځه وړلو کې ډیر زیات رول لري.

د مدرسو او مکتبونو جوړول او هغه وقف کول، شفاخانې جوړول او هغه وقف کول،د شفاخانو لپاره د وسائلو اخیستل او هغه وقف کول، د قبرستان لپاره ځمکه وقف کول، د مسافر خانو جوړول او هغه وقف کول، د اوبو دکوهیانو کیندل او هغه وقف کول، د عاجلو مرستو د رسولو لپاره د امبو لانسونو وقف کول، د دیني او عصري کتابونو وقف کول .... دا ټول هغه شیان دي چې په ټولنه کې ورڅخه فقیران ګټه اخلي او زیات ضرورتونه یې رفع کیږي.

د سلفو صالحینو هغه سُنت چې بیښي خلکو پریښی دی ، هغه د وقف موضوع ده. سلف صالحینو او زمونږ څخه مخکنیو نیکانو به د وقف موضع ته زیات اهمیت ورکولو او شیان به یې وقف کول، حتی چې د قبر کیندلو وسائل او د خیرات پخولو لوخي به یې وقف کول.

که چیرې خلک د وقف موضوع باندې عمل وکړي ، نو فقر به له منځه لاړ شي او یا به یې کچه راکمه شي.

په حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « إِذَا مَاتَ الإِنْسَانُ انْقَطَعَ عَنْهُ عَمَلُهُ إِلاَّ مِنْ ثَلاَثَةٍ إِلاَّ مِنْ صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ أَوْ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ أَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُو لَهُ ». صحيح مسلم (٥ /٧٣)

ژباړه: د ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې بیشکه نبي علیه السلام وفرمایل: کله چې انسان مړ شي، نو د هغه عمل بند شي(یعنې نیک عمل او د هغه ثواب ورڅخه بند شي) ، ما سوا ددرې شیانو څخه (چې د مرګ څخه وروسته ورته هم ثواب رسیږي) چې هغه عبارت دی د صدقه جاریه څخه او د علم څخه چې ګټه ور څخه اخیستلی شي او نیک بچی دی چې دعاء ورته کوي.

**نفعني الله وإياكم بالقرآن العظيم ، وبهديِ محمدٍ -صلى الله عليه وسلم-، وأقول قولي هذا ، وأستغفر الله لي ولكم ولسائر المسلمين من كل ذنبٍ ، فاستغفروه ، إنه هو الغفور الرحيم.**